Secure Livelihoods Research Consortium

**خېړنیزه پاڼه ۲۹**
**تله ۱۳۹۷**

# شواهد د سیاست تر اغیزی لاندی: په افغانستان کې د خدمتونو د وړاندې کولو او د دولتي مشروعیت تر منځ د اړیکو په اړه پوښتنې

بنسټیز پیغامونه:

- د لاسرسي لپاره په اړیکو ولاړې شبکې دا تنظیموي چې څوک باید خدمتونو ته لاسرسی ولري او څنګه دغه خدمتونه چمتو شي.
- خدمتونو ته لاسرسی تر ډېره کچه د ځایي ځواکونو او سرچینو په ذریعه تنظیمیږي.
- خدمتونو ته نابرابر یا ”نامناسب“ لاسرسی د مشروعیت مفهوم ته زیان رسوي.



یو افغان ډاکټر د نسخه لیکلو په حال کې

دغه څېړنیزه پاڼه د خدمتونو د وړاندی کولو او د دولتي مشروعیت تر منځ اړیکو په باب شواهد او موندنې رابرسېره کوي. دغه موندنې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې له خوا د پنځه کالو څېړنو (۲۰۱۲-۲۰۱۷) په پایله کې رابرسېره شوي چې په افغانستان کې يې د خدمتونو د چمتو کولو او دولتي مشروعیت تر منځ د اړیکو په باب کړې وې. دغه څېړنه د خوندي معیشت د څېړنې کنسرسیوم د پروګرام یوه برخه وه چې بهر کی د نړیوالې پراختیا انستیټوټ (ODI) له خوا رهبري کېده او د بریټانیا د نړیوالې پراختیا ادارې (DFID) او اروپایي کمیسیون (EC) هغه تمویل کړی و. سربیره پر دې د افغانستان حکومت او د مدني ټولنې له استازو سره مشورې شوي او همدارنګه د تمویل کوونکو استازو سره غیر رسمي دوه اړخیزې غونډې شوې وې. د دې غونډو او مشورو موخه دا وه چې د چوپړتیاو د وړاندی کولو په اړه د اوسني حکومت پالیسي او اوسني پروګرام په اړه اندیښنې په ښه ډول وپېژندل شي. دا څېړنه د چوپړتیاو د وړاندې کولو او د مشروعیت په اړه د مباحثو په تړاو د یو لړ آثارو په عمومی کتنې پیل کیږي. څېړنیزه پاڼه بیا د چوپړتیاو په وړاندې کولو کې افغاني تجربې او د حکومت په اړه ادراکات تر کتنې لاندې نیسي او د پالیسۍ د پایلو په معرفي کولو ختمیږي.

## د خدمتونو وړاندې کول او مشروعیت: تر پوښتنی لاندې نمونه؟

تر پوښتنې لاندې هغه خدمتونه چې په دې پاڼه کې یاد شوي، داسې خدمتونو ته اشاره کوي لکه روغتیا، زده کړه، اوبه او حفظ الصحه او عامه اړتیاوې لکه امنیت او عدالت. په هغو هیوادونو کې چې جګړو ځپلي وي، حکومتونه د دې ډول چوپړتیاو یوازیني وړاندې کوونکي نه دي. ډېر ځله له غیر حکومتي موسسو او د ملګرو ملتونو له ادارو سره تړونونه کیږي چې د چوپړتیاو په وړاندې کولو کې د دولتي ظرفیت خلا ډکه کړي. په دې ډول په دې هیوادونو کې د چوپړتیاو د وړاندې کولو او د دولت په اړه د ادراکاتو تر منځ اړیکه تر پوښتنې لاندې راځي. د ناکامو دولتونو ناتواني چې اساسي دندې تر سره کړي، لکه څنګه چې غني او نورو (۲۰۰۵) ویلي، د مشروعیت او حاکمیت یوه خطرناکه خلا منځته راوړي.

د خوندي معیشت د څېړنې کنسرسیوم څېړنیزه پاڼه په جګړه ځپلو هیوادونو کې د معیشت مسایلو، د أساسي خدمتونو او ټولنیزې ساتنې په اړه معلومات او شننه وړاندې کوي. دغه او د خوندي معیشت د څېړنې کنسرسیوم نورې لیکنې په دې پته موندلی شئ: www.securelivelihoods.org. دا کنسرسیوم د انګلستان حکومت د مرستو ادارې (UK Aid)، د آیرلنډ مرستو ادارې (Irish Aid) او د اروپایي کمیسیون (EC) له خوا تمویلیږي.

په دې لیکنه کې ځای شوې نظرونه په لیکوالو پورې اړه لري او په حتمي ډول د انګلستان حکومت رسمي پالیسي یا د آیرلنډ د مرستو ادارې، د اروپایي کمیسیون، د خوندي معیشت د څېړنې کنسرسیوم یا زموږ د همکارانو نظرونه نه منعکسوي.
د خوندي معیشت د څېړنې کنسرسیوم ۲۰۱٦©

د خوندي معیشت د څېړنې کنسرسیوم
بهر کې د نړیوالې پراختیا انسټیټوټ ( ODI)
د خپروني کوډ: P ۱۸۱۱
T +44 (0)20 3817 0031
F +44 (0)20 7922 0399
E slrc@odi.org.uk
www.securelivelihoods.org
@SLRCtweet
لیکوالان: اشلی جکسون، اورځلا نعمت

دغه خلا د catch – ۲۲ معما تمثیلوي. په دې لوبه کې د ظرفیت نشتوالي د مشروعیت د نشتوالي سبب ګرځي او مشروعیت یوازې په هغه وخت کې یقیني کېدای شي چې د عامه چوپړتیاو په وړاندې کولو کې د دولت ظرفیت لوړ شي. (ډینی او نور ۲۰۱۷) په جګړه ځپلو کمزورو هیوادونو کې نا امني هم د دې کمزورتیا یوه نښه ده او هم په ورته وخت کې د هغې لامل دی. نړیوالې ټولنې د دولتي ظرفیت جوړونې په اړه ډېر نوښتونه معرفي کړي چې دغه کمزوري رفع کړي. دغه نوښتونه او هڅې په دې باور تر سره کېږي چې د نا امني او د ظرفیت نشتوالي بنسټیز لاملونه کېدای شي د پرمختیایي پروژو په برکت، لږ تر لږه تر یوې اندازې رفع شي. (روچامینو کال، ۲۰۱۱، زویسلیک ۲۰۰۹). په هر حال، د دغو هڅو پایلو د روښانتیا پر ځای نور ابهامات رامنځته کړي دي. (نعمت ۲۰۱۴)

د بدلون تیوري چې له ترهګرۍ سره د مبارزې او د ثبات پر بنسټ ولاړه ده هم په همدې ډول استدلال کوي. د دې تیوري له مخې مرستې ته د داسې وسیلې په سترګه کتل کېږي چې په بالقوه ډول متخاصم چاپېریال کې د "ذهنونو او زړونو" د ګټلو له لارې پوځي طاقتونه وساتي او عمومي امنیتي حالت بهتره کړي. د ترهګرۍ ضد او ثبات چوکاټونو دوارو، په افغانستان کې ملکي او نظامي پروګرامونه تر نفوذ لاندې راوستي او دغه افکار د "مشروعیت د خلا" له استدلال سره یو ځای شوي او په افغانستان کې یې د پروګرامونو د طرحې او پلي کولو ساحې تر نفوذ لاندې راوستې. په پخوا کې د روغتیا او زده کړې اجنډا له بنسټیزو جوړښتونو او کاري فرصتونو سره یو ځای په خپل ذات کې د یوه هدف په څېر ټاکل شوي وو. له ۲۰۰۱ څخه وروسته په افغانستان کې، لکه په ډېرو کمزورو هیوادونو کې د خدمتونو وړاندې کول په حتمي ډول له امنیتي او سیاسي هدفونو سره تړلي وو. په افغانستان کې د دې ډول پروګرامونو یوه ښه نمونه هغه خدمتونه دي چې د ولایتي بیا رغونې ټیمونو ((PRT له خوا تر سره کېدل. دغه پروګرامونه په ټول افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو د قوماندانانو له خوا رهبري کېدل.

له افغانستان څخه او دغه راز له نورو اوو هیوادونو څخه چې جګړو ځپلي دي، شواهد چې د خوندي معیشت د څېړنې کنسرسیوم موندلي دي دغه ادعاګانې په مخامخ ډول ننګوي. د کیفي او کمي شواهدو پر بنسټ د خوندي معیشت د څېړنې کنسرسیوم موندلې ده چې "بنسټیزو خدمتونه، ټولنیزه ساتنه، یا معیشتي مرستو ته بهتره لاسرسی" په حتمي ډول په دې نه تمامیږي چې د حکومت په اړه مثبت برداشت رامنځته شي." (نیکسن او مالیت ، ۲۰۱۷). که څه هم د خدمتونو وړاندې کول د دولت په اړه په برداشت کې بهتري راوستی شي، خو دا د مشروعیت د خلا د ستونزې لپاره بشپړ ځواب نه برابروي.

دا ډول موندنې د هغو کسانو لپاره چې د افغانستان له شرایطو سره بلد دي، باید د حیرانتیا لامل نه وي. ډېرې هڅې په دې نه دي توانېدلې چې خپلې موخې لاسته راوړي او د دې پر ځای یې انحرافي انګیزې درلودلې، جګړې یې نورې هم تازه کړې او د دولت مشروعیت یې تر پوښتنې لاندې راوستی. د ټفټ پوهنتون په افغانستان کې ناکراره سیمو ته د مرستو په اړه په ۲۰۱۱ کې یوه څېړنه کړې وه او ښیي چې "مرستې د ثبات پر ځای د بې ثباتۍ لامل ګرځېدلې." (فیشتشتاین او ویلډر ۲۰۱۱). سره له دې، داسې ښکاري چې د افغانستان حکومت او نړیوالې ټولنې له دې موندنو څخه څه نه دي زده کړي.

## په افغانستان کې د خدمتونو د وړاندې کولو تجربې او د حکومت په اړه برداشت:

په افغانستان کې، هغه ماډلونه چې خدمتونه څنګه باید وړاندې شي (او په حقیقت کې پراخې پرمختیایي هڅې) له هغو ښو سره توپیر لري چې دغه خدمتونه په حقیقت کې تر سره کېږي. سیاسي امتیازاتو او د بریاوو د بیان احکامو د احتساب پروسه او هغه توانمندي تر نفوذ لاندې راوستې چې په ذریعه یې د چارو له بهیر څخه زده کړه کېدای او بدلون موندای شي. دولتي ادارو په ټولو کچو کې کمزوري او د نیپوتیزم [له ځواک څخه د خپلې کورنۍ یا دوستانو په ګټه ناوړه استفاده کول] تر نفوذ لاندې دي، له خلکو سره ډېرې کمزورې اړیکې لري او د امنیت، حکومتولي یا بنسټیزو خدمتونو په وړاندې کولو کې محدود ظرفیت لري. له ۲۰۰۱ څخه په وروسته کلونو کې، زده کړه او روغتیا ته لاسرسي ډېره پراختیا وموندله، مګر ډېر ژر دغه خدمتونه کمزوري شوي. له ۲۰۰۱ څخه وروسته په ښوونځیو کې د میلیونونو زده کوونکو د شاملېدو خبرې او د روغتیايي خدمتونو د برابرولو په اړه بیانونو دغه حقیقت له نظره غورځولی و چې خدمتونه ښايي دومره ډېر هم نه وي لکه څنګه چې ادعا یې کېدله او دغو خدمتونو ته لاسرسي ډېر ځله انحصاري اړخ درلود. هغه بریاوې چې په لومړي سر کې د بنسټیزو خدمتونو په پراختیا او د معیشت د ښه کولو په ډګر کې لاسته راغلې وې، اوس تر ګواښ لاندې دي او د ناامنۍ او داسې دولت له کبله له منځه ځي چې په زیاتېدونکي ډول ناوړه ګټه اخیستونکی او داړه مار خصلت غوره کوي. د یادونې وړ ده چې خدمتونو د حل لارې یوه برخه ده، مګر خدمتونه د ټولو مسایلو د حل لار نه ده. له ۲۰۰۱ څخه راهیسې په افغانستان کې د پراختیایي خدمتونو د وړاندې کولو ماډلونو په اړه یو روښانه لرلید نشته. د یوه عمومي انځور لپاره اړتیا شته چې د امنیت او عدالت د اندېښنو په ګډون د خدمتونو عمومي اړخونه راونغاړي چې د افغانانو لپاره تر ټولو مهم دي، د کومو په چوکاټ کې چې د ولسي تړون په څېر پروګرامونه باید پلي شي.

## په افغانستان کې د ښو خدمتونو د وړاندې کولو په لار کې درې عمده فکتورونه خنډ جوړوي:

### ۱. په تمویلوونکو باندې ډډه کول:

لومړی په تمویلوونکو باندې ډډه کول دي چېرې چې تر ټولو لومړني خدمتونه لکه روغتیا او زده کړې وړاندې کېږي او د تمویلوونکو له خوا د دوو اړخیزو هوکړو په ترڅ کې تمویلیږي، خو د حکومت د بودیجې د سیستم کومه برخه نه جوړوي. په ۲۰۱۲ کې د نړیوال بانک

د یوه راپور له مخې، په ۲۰۱۳ کې د خدمتونو وړاندی کول، وده او امنیت د عمومي ناخالص عایداتو د ۴۵ سلنې په برابر لګښت درلود او راپور دې پایلې ته رسیږي چې "افغانستان په ټوله نړۍ کې یوازینی هیواد دی چې په بهرنیو مرستو بې حده زیات متکي دی". (نړیوال بانک، ۲۰۱۲: ۳) د دې مانا یوازې دا نه ده چې د دې خدمتونو دوامداره شتون ته تاوان رسوي، بلکې مانا یې دا هم ده چې ډېر زیات شمېر ټولنې په دغو مرستو متکي دي. د پروګرام په کچه، د وتلو داسې ستراتیژي نه ده طرحه شوې چې په واقعیتونو او په دې بنسټ ولاړې وي چې څنګه د افغانستان حکومت کولای شي په دوامداره ډول په راتلونکې کې خپلې دندې اجرا کړي.

## ۲. د خدمتونو په وړاندې کولو کې د عامه سکټور د ظرفیت نشتوالی:

که څه هم، د داسې بریالیو ادارو بېلګې لرو چې د ظرفیت لوړولو په برخه کې یې کار کړی، د بیلګې په ډول د کلیو پراختیا او د بیا رغونې وزارت او تر یوه حده، د اوبو لګونې، کرنې او مالداری وزارت. د ممکنه موخو په مدیریت، پلانولو، پلي کولو او اندازه کولو کې ټیټ ظرفیت د دې لامل ګرځېدلی چې د کلنۍ بودیجې په لګښتونو کې هر کال کموالی راشي، سره له دې چې د خدمتونو لپاره سخته اړتیا موجوده وه. د خوندي معیشت د څېړنې کنسرسیوم د پراخو موندنو په څیر چې په افغانستان کې یې د ظرفیت جوړونې په اړه لاسته راوړې، دلته د ظرفیت جوړونې په تړاو تګلاره یې بې سنجشه او فرمایشي بڼه درلوده. دغه تګلاره د یوې تخنیکي او سیاسي پروسې په څېر درک شوې په کوم کې چې د ځواک په سر اړیکې ډېرې ارزښتناکې دي.

## ۳. سیاسي بې ثباتي:

په۲۰۱۴ کې د ملي یووالي حکومت له جوړېدو راهیسې، هیواد له یو لړ جدي سیاسي بحرانونو سره مخ شو چې د خدمتونو د وړاندې کولو بهیر یې په ځانګړي ډول په نا امنو او لېرې پرتو سیمو کې زیانمن کړی دی. له یوې خوا، د سیاسي ثبات نشتوالي د ملي یووالي حکومت مشروعیت ته تاوان رسولی، چې د اساسي قانون له چوکاټ څخه بهر جوړ شوی. له بلې خوا، سیاسي بې ثباتي د دې لامل شوی چې ګڼ شمېر وزارتونه د خدمتونو په وړاندې کولو کې بېرته پاتې شي؛ په ځینو حالاتو کې یو کال وخت په کار و چې د وزیرانو په کچه مقررۍ تصویب شي (د امریکا د نړیوالي پراختیا اداره، ۲۰۱۲). سره له دې چې حکومت له دغو بحرانونو څخه راووت، که د امنیتي شرایطو په خرابوالي یا له دندو څخه د مهمو سیاسي کسانو په لېرې کولو پورې تړلي وو، داسې بحرانونه په هغه طرز او طریقې باندې مستقیمه اغیزه لري د کومو په ذریعه چې افغانان د حکومت په اړه یو درک پیدا کوي او د حکومت په هغه توانایي باندې منفي اغیزه کوي چې د خدمتونو د مساویانه او په وخت وړاندی کول یقیني کوي.

## مهمې موندنې

**د لاسرسۍ لپاره په اړیکو ولاړې شبکې دا تنظیموي چې څوک باید خدمتونو ته لاسرسی ولري او څنګه دغه خدمتونه چمتو شي.**

حکومتي خدمتونه ټولو ته د لاسرسۍ وړ نه دي. افغانستان یو حکومت دی چې پر اړیکو جوړ شوی، د دې په ځای چې له ادارو څخه جوړ وي (نیکسن ۲۰۰۸). خدمتونو ته د لاسرسۍ لپاره د اړیکو پر بنسټ شبکې د سرچینو د ویش په ذریعه د دولتي ادارو له لارې ځواک تولیدوي او تنظیموي (جکسن او مینویا ۲۰۱۲). په دولتي بنسټونو کې دننه برخه وال د عامه اجناسو او بنسټیزو خدمتونو د برابرولو له لارې سرچینې پیدا کوي. خدمت هغه سرچینه ده چې باید لاسرسی ورته پیدا شي نه یو عامه منفعت چې په وړیا ډول باید ورکړل شي. رسمي پروسې په ظاهره کار کوي او داسې انګیرنه رامنځته کوي چې اداره "فعاله ده" او د ریفورم یو غلط تصور پیاوړی کوي، خو د فعالو ادارو په جوړولو کې خنډ جوړوي (جیکسن ، ۲۰۱۲). حقیقي قواعد له هغو قواعدو څخه ډېر متفاوت دي چې د پالیسۍ په سندونو کې لیکل شوي دي.

څرنګه چې حکومتي بنسټونه د ځواکمنو د ګټو د پیاوړي کیدو لپاره په کار لویږي، دغه ادارې په ندرت سره د هغو کسانو د ګټو لپاره کار کوي چې له ځواک څخه برخمنې نه دي یا د خپلو اعلان شویو موخو سره سم کار وکړي. د ملکي خدماتو د یو بست لپاره مقرري په معمول ډول د بډو ورکول ضروري ګڼي. همدا شان د ولایتي شورا یو غړی شاید د یوې مسئلې د حل لپاره حق الزحمه وغواړي. د فساد پر ضد د مبارزې د څارنې او ارزونې د ګډې خپلواکې کمیټې وروستی راپور (۲۰۱۷) چې د زده کړې په اړه خپور شوی، څرګندوي چې دغه پروسه په تعلیمي سیستم کې څنګه کار کوي. د بیلګې په ډول، راپور په ډاګه کوي چې د ښوونکو استخدام "سل په سلو کې له فساد څخه ډکه پروسه وه". د مامورینو څو تنو مدیرانو ویلي چې "د دوی د مسئولیت په ساحه کې تقریباً هر یو شخص د خپلوي پر بنسټ مقرر شوی و، او په دې اړه د رسمي طرزالعملونو کارولو ته هیڅ پاملرنه نه ده شوې" (۲۰۱۷). ښوونکي ډېر ځله باید پیسې ورکړي چې خپلې دندې وساتي او په دې ډول د ښوونکو د وړتیا کچه ټیټه ساتل کیږي. د حېرانتیا خبره نه ده، د فساد پر ضد د مبارزې د څارنې او ارزونې د ګډې خپلواکې کمیټې وروستی راپور وایي چې له شپږم ټولګي څخه د فارغ شویو شاګردانو ۳۱ سلنه آن یوه ساده کلمه هم لیکلی نه شي.

## خدمتونو ته لاسرسی تر ډېره کچه د ځايي ځواکونو او ګټو په ذريعه تنظيمېږي

ځايي ځواکونه او د لاسرسی شبکې هغه اصلي ټاکونکي عوامل دي چې ټاکي کوم خدمتونه بايد وړاندې شي او څوک بايد هغو ته لاسرسی ولري. د نړيوال بانک د ۲۰۱۵ کال د ملي روغتيايي د پاملرنې پروګرام، د روغتيايي خدماتو د بنسټيز پروګرام ارزونه "سياسي مداخله" د خدمتونو د برابرولو په لار کې يو اساسي خطر ګڼي (نړيوال بانک ، ۲۰۱۵). د روغتيا او زده کړې په اړه د نړيوال بانک او د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره يوه بله څېړنه ښيي چې ځايي ځواکونه څرنګه خدمتونو ته په لاسرسي کې ګوتې وهي. د وردګ ولايت په بهسود ولسوالۍ کې چې د هزاره ګانو شمېر په کې زيات دی، د ولايتي شورا غړو څو ځايي کلينيکونه درلودل؛ که څه هم دغه کلينيکونه د رسمي طرزالعمل له لارې ټاکل شوي نه وو. په دې ولايت کې له اته ولسواليو څخه دغې يوې ولسوالۍ، چې ډېرې ښې اړيکې لري، د ټول ولايت د روغتيايي کلينيکونو ۴۰ سلنه د ځان کړې وه (اينباويز، ۲۰۱۲: ۴۲).

متحدالمال پروګرام چې په اوس مهال کې د خدمتونو د وړاندې کولو طريقی ځانګړې کوي، خدماتو ته د لاسرسي په اړه د ډېرو نابرابريو لامل ګرځېدلی، آن د کليو په کچه لکه څنګه چې د خوندي معيشت د څېړنې کنسرسيوم له خوا د ملي پيوستون په دننه کې څېړنه ښيي، هم د کليو په کچه دغه توپيرونه څرګندوي. (پين، ۲۰۱۲). په ناکامو دولتونو کې په ډېرو پروګرامونو کې خدمتونو ته لاسرسی د تکنوکراتانو له خوا تنظيمېږي چې په سياسي لحاظ له تجربې څخه برخمن نه دي. دغه تګلاره د ناوړه ګټې اخيستنې لپاره زمينه برابره کړې او د ادارو د جوړونې په لار کې خنډ ګرځېدلی.

## چوپړتياو ته نابرابر يا "نامناسب" لاسرسی د مشروعيت مفهوم ته زيان رسوي

لکه څنګه چې د خوندي معيشت د څېړنې کنسرسيوم عمومي موندنې ښيي، د خدمتونو د وړاندې کولو د څرنګوالي په اړه مفهومونه له ډېر اهميت څخه برخمن دي. داسې برداشتونه چې چوپړتياو ته لاسرسی انحصاری يا نابرابر انګېري، په قوي احتمال د دولت صلاحيت او مشروعيت کمزوری کوي (ډيکس او نور ۲۰۱۲). اوس مهال د ډېری افغانانو په باور حکومت فاسد دی او په خپل چلند کې له تاوتريخوالي کار اخلي او د خدمتونو په وړاندې کولو کې په هر حال کمزوری او خوځښت نه لري.

د سرچينو او خدماتو د وېش سيستم د اړتياو پر بنسټ تنظيم شوي نه دي؛ دغه سيستم د ځايي زورواکانو يا نفوذ لرونکو سياسي مشرانو په ځواک پورې اړه لري، چې کولای شي خپلې سيمې ته ډېرې سرچينې را جذب کړي. د هيواد په کچه د يو څو پروګرامونو سربېره، د سرچينو د نابرابر وېش په اړه په عام ډول ځينی اندېښنې موجودې دي.

افغانان لکه د نورو خلکو په څير غواړي درناوی يې وشي او د دې ډاډ تر لاسه کړي چې له چارواکو سره د دوی مراوده بايد له انصاف او عدالت څخه برخمنه وي. په ننګرهار کې د "وايګنډ" څېړنه ښيي چې له هر څه د مخه له دولت سره د دوی ورځنۍ او کوچنۍ معاملې د دولت د مشروعيت په اړه د برداشت په جوړېدلو کې ډېر مهم رول لري (وايګنډ ، ۲۰۱۷). دغه حقيقت د هيواد په ډېرو نورو برخو کې هم څرګند دی. په دې ولسواليو کې د ولسوالانو او واليانو رول له ځايي رهبرانو سره د اړيکو په ساتلو کې د دې لامل ګرځېدلی چې هلته سرچينې په متوازن ډول ووېشل شي.

## پايلې:

### ۱. د کارونو په اجراء کولو کې له تکنوکراتيکو ماډلونو څخه ډډه کول

که د حکومت په اړه د افغانانو نظرونه تر ډېره حده له حکومت سره د مراودې په ذريعه ټاکل کيږي، د اصلاحاتو هڅې بايد د اړيکو په هغو انحصاري شبکو زور واچوي چې خدمتونو، ساتنې او د معيشت وسايلو ته لاسرسی تنظيموي، نه په تجريدي او خوشباوره او بې اثره نظرونو، چې څرنګه يو دولت بايد فعاله واوسي.

تر ټولو لومړنۍ پايلې په ولسي تړون پورې تړاو لري. دغه تړون د دې لپاره طرحه شوی چې د احتساب نوې اړيکې ټينګې کړي. د دې تړون موخه دا ده چې د دولت او اتباعو او دغه راز د کليو او ولسوالۍ د رهبري او د دوی د مؤکلينو تر منځ اړيکې بدلې کړي. د تړون له مخې دغه بدلون بايد د دولت او اتباعو تر منځ د يوې نوې هوکړې له لارې تر سره شي. د هغو شبکو په مقايسه چې د اړيکو پر بنسټ رامنځته شوي او د خوندي معيشت د څېړنې کنسرسيوم موندلي دي او هغو ټوليزو تړونونو ته په کتو سره چې په تاريخي لحاظ يې د افغانستان دولت سره اړيکو ته بڼه ورکړې، ولسي تړون د انفرادي اتباعو او دولت تر منځ د ټولنيز تړون کلاسيکه بڼه په پام کې لري او د دې اړيکو د بڼه کولو لپاره يوه تخنيکي طرحه وړاندې کوي.

زورمندانو ته د عامه سرچينو د ناوړې استفادې له لاری ګټه رسول په هکله غور کول د دی اړتيا رامنځته کوی چی هغو هڅو ته بايد زياته پاملرنه وشی کوم چی ملی پروګرامونو ته له ځايي سياسی شرايطو سره سمون ورکوی. په پيل کی، داسې فرض کوو چې د زورمندانو قشر په ټولو کچو، سرچينو ته لاسرسی لري نو د انحصاري چلند د مخنيوي لپاره بايد په سياسي فعاليت لاس پورې شي. (پين ، ۲۰۱۲).

### ۲. د داسی کړنلارو غوره کول چې په سياسي لحاظ له پوهاوي ډکې وي

د ولسي تړون په وړاندې ننګونه چې له حل کولو څخه يې ناتوانه برېښي دا ده چې څنګه کولای شو په ملي او ځايي کچو د لاسرسۍ د دغو شبکو له منطق څخه هغه تړون ته ورسېږو کوم چې په عمومي او مطلق ډول د فرد او دولت تر منځ منل شوی.

د ولسي تړون په اسنادو کې داسې یوه ښکاره مفکوره موجوده ده چې د کلیو د پراختیا او بیا رغونې، د عامې روغتیا او د معارف وزارتونه به په دې وتوانیږي چې په مستقیم ډول د ټولنې پرمختیایي شوراګانو ته د دوی د اړتیاو پر بنسټ خدمتونه ورسوي او پرمختیایي شوراګانې کولای شي دغه وزارتونه د دې خدمتونو په اړه احتساب ته راوبولي (پین، ۲۰۱۲). په حقیقت کې هغه سرچینې چې د دغو پروګرامونو په ذریعه برابریږي، د دې خطر له ځان سره لري چې هغه کړنلارې چې دوی یې غواړي له منځه یوسي، پیاوړې کوي (پین او نور ۲۰۱۷).

په افغانستان کې ۱۷ کلنې ناکامې تجربې په ځانګړې ډول د دولت د ظرفیت جوړونې په برخه کې ښیي چې د خدمتونو وړاندې کول یوازې نه شي کولای د مشروعیت مسئله هواره کړي او دا چې خدماتو ته د لاسرسي په اړه ډېرې واقعي مسئلې شته. یوه مهمه مسئله چې ډېری وخت له پامه غورځول شوې دا ده چې په کار کې ظرفیت جوړونه په معمول ډول د ځواک پر سر د اړیکو تر سیوري لاندې راغلې، ځواک څنګه ویشل شوی او له رسمي او غیر رسمي ادارو څخه کوم یې په فیصلو کولو کنټرول لري او طرزالعملونه ټاکي (ډیني او مالیت، بیزن ، ۲۰۱۷:۱۲).

د دې څېړنیزې پاڼې لیکونکی د ولسي تړون له هڅو سره چې د خدمتونو د ښه وړاندی کولو په اړه یې کوي، مخالفت نه لري، په حقیقت کې دغه هڅې د ولسي تړون د پروګرام تر ټولو مهمه برخه ده. خو باید وویل شي چې که فرض کړو دغه کړنلاره د افغانستان حکومت د مشروعیت په زیاتولو تمامه شي، دا خبره هم ناسمه او هم خطرناکه ده (میک لولین، ۲۰۱۲؛ ګوردون ۲۰۱۲؛ میسن، ۲۰۱۲؛ کارپینټر او نرو ، ۲۰۱۲؛ هیروسي او نور، ۲۰۱۲؛ نیکسن او مالیت، ۲۰۱۷؛ برینکر هوف او نور ۲۰۱۲؛ او بینشتاین، ۲۰۰۹). د ولسي تړون یو سند ادعا کوي چې دغه پروګرام به "د افغانستان د دولت مشروعیت په پراخولو سره تاوتریخوالي او کمزورې کړي، ته د پای ټکی کیږدي." دا یوه واقع بینانه موخه نه ده، ځکه په هیڅ ځای کې داسې پراختیایي پروګرام نشته چې دغه موخې دې لاسته راوړې وي. د دې موخې د لاسته راوړلو لپاره باید په امنیتي حالت کې ډېر پرمختګونه وشي او یوې دوامدارې سیاسي حل لارې ته اړتیا شته.

### ۳. د رښتینو او عملي موخو ټاکل

په افغانستان کې د دولت جوړونې پروګرام د ساده تکنوکراتیکو تیوریګانو او د داسې موخو د ټاکلو په سبب له ناکامۍ سره مخامخ شوی چې لاسته راوړل یې شونې نه دي. په سیاسي لحاظ معقولې کړنلارې چې د پوهې پر بنسټ ولاړې وي، زموږ له تجربو څخه منشاء اخلي او سیاسي، امنیتي او اقتصادي شرایطو ته په کتو سره باید وکتل شي چې د کومو فعالیتونو اجراء کول شوني دي او هغه باید د لومړیتوب له مخې درجه بندي شي. داسې نه بریښي چې ولسي تړون د دولت او اتباعو تر منځ نوې اړیکه رامنځته کړي، لکه څنګه چې د ملي پیوستون پروګرام چې و نه توانېد خپلې موخې ته ورسیږي چې د حکومت د فعالیتونو او موجودیت پراخول وو (پین ۲۰۱۲)، او نه د ولسي تړون پروګرام کولای شي د تاوتریخوالي کړۍ پرې کړي. په ټول ملک کې نن ورځ اساسي خدماتو ته د لاسرسي اړتیا ته په کتو سره، آیا بس به نه وي چې د ولسي تړون سرچینې د ژوند خوندي ساتلو او په ژوند کې د بدلونونو د راوستلو لپاره وقف کړو او د دوی په کیفیت، لاسرسي او احتساب کې بهتري راولو؟

### ۴. د ناامنۍ له حقایقو سره مجادله:

د هیواد په ۴۰ سلنه برخه کې چې د حکومت له کنټرول څخه وتلې ده، د خدمتونو - دولتي مشروعیت مسئله په بشپړ ډول نا شونې ده (د افغانستان د بیا رغونې لپاره د امریکا د متحده ایالاتو ځانګړی سر مفتش، سیګار ، ۲۰۱۷). سره له دې، د هڅو ادامه چې افغانان په خپلو سیمو کې دغو خدمتونو ته لاسرسی ولري، د زده کړې او رفاه په برخو کې د بریاو پیاوړې کول به په راتلونکو کلونو کې د ډېر اهمیت وړ وي. څرنګه به ولسي تړون ډاډ تر لاسه کوي چې په دغو سیمو کې به خدمتونه وړاندې کوي او کومو بدلونونو ته به د کړنلارو په برخه کې اړتیاوې وي، په بشپړ ډول څرګند نه دی. په داسې ولایتونو لکه هلمند او لوګر کې د خدمتونو لاسرسی د یقیني کولو لپاره د حکومت او مخالفینو په منځ کې کاري اړیکې ډېر زیات اهمیت لري؛ په بل هر ځای کې ګډې همکارۍ ته دومره لېوالتیا نه ده ښودل شوې. دې شرایطو د افغانانو پر ژوند چې خدمتونه باید ورته ورسیږي، ډېره منفي اغېزه کړې ده. په پایله کې د ولسي تړون پلي کوونکي دې امکاناتو او مرستې ته اړتیا لري چې د حکومت له ولکې څخه په بهر سیمو کې خدماتو ته د لاسرسي په اړه خبرې اترې پیل کړي.

ډېر شمېر ستراتیژۍ ګانې او موخې ټاکل شوې او څو سیاسي پروسې د هیواد د ثبات لپاره طرحه او بیا هېرې شوې. زیاتېدونکې نا امنۍ ته په کتو سره، د ډېری افغانانو په نظر د راتلونکې لپاره روښانه پرمختګ ناشونی ښکاري. مشروعیت په یو شمېر فکټورونو پورې اړه لري، خو هغه فکټور چې ډېر له پامه لوېدلی دی، د دولت هغه وړتیا ده چې خپلو اتباعو ته د اوږدمهاله ثبات یو لرلید وړاندې کړي.

## پایله

د خدمتونو وړاندې کول یو له هغو فکتورونو څخه دی چې د حکومت په اړه د خلکو برداشت او نظرونو ته شکل ورکوي خو دغه فکتور په استثنایي ډول له اهمیت څخه برخمن دی. ځواک، سیاست او اړیکې په افغانستان کې په پریکنده ډول د خدمتونو په وړاندې کولو کې ونډه لري؛ هڅې او لاسوهنې باید په حتمي ډول د ځایي شرایطو په اړه د پوهې او د هغو د اړتیاو پر بنسټ تنظیم شي. متحدالمال پروګرامونه، آن د خدمتونو په وړاندې کولو کې یوازې همدومره بریاوې درلودای شي. د تخنیکي هڅو او سیاسي پروسو په منځ کې د همغږۍ نشتوالی د دې لامل ګرځي چې که خدمتونو ته په برابر ډول لاسرسی و نه شي، په پایله کې د ادارو د کمزورۍ لامل کیږي. په افغانستان کې د ادارو د پرمختګ په دې پړاو کې تر ټولو ارزښتناکې ستونزې یوازې په دې نه حل کیږي چې تخنیکي حل لارې پیدا کړو (لکه څنګه چې ډېر ځله داسې هڅې شوې). هغه انګېزې او خنډونه چې سیاسي رهبري ولري په دوی باندې پوهېدل د بدلونونو د راوستلو لپاره اړین دي. په کافي اندازه شواهد شته چې دغه خبره ثابتوي، سره له دې هم دغه حقایق د خدمتونو په وړاندې کولو او د ظرفیت په جوړولو کې په ندرت سره په کافي ډول په پام کې نیول شوي. پوښتنه دا ده چې کله به نړیواله ټولنه او د افغانستان حکومت د دغو شواهدو پر بنسټ خپل کار پیل کړي.

### د خوندي معیشت د څېړنې کنسرسیوم دویم پړاو: د نویو موضوعاتو په اړه څېړنې

د خوندي معیشت د څېړنې کنسرسیوم په دویم پړاو کې (۲۰۱۹-۲۰۱۷) به موږ دې ته دوام ورکوو چې وښیو د خدمتونو وړاندې کول د دولت د مشروعیت په جوړولو کې څومره رول لري. د خوندي معیشت د څېړنې کنسرسیوم (۱) تر څېړنې لاندې قضیو څرګنده کړې چې د دولت د مشروعیت په جوړولو کې د خدمتونو وړاندې کول په څه ډول د دولت د جوړیدو په تاریخ باندې ډډه کوي.

په هر حال، څرګنده نه ده چې ولې د خدمتونو وړاندې کول په ځینو هیوادونو کې د مشروعیت لپاره ارزښتمند وي او د ځینو لپاره نه وي یا د مشروعیت نورې سرچینې ولې خپل ارزښت له لاسه ورکوي. په ټولیز ډول موږ لا تر اوسه هم په دې نه پوهیږو چې په جګړه ځپلو هیوادونو کې خدمتونه تر کومې کچې د مشروعیت په جوړولو کې رول لري. په دې غرض چې د مرستندویانو او پالیسي جوړوونکو لپاره د خدمتونو د وړاندې کولو او د دولتي مشروعیت د جوړولو په منځ کې د اړیکو یو روښانه تصویر وړاندې کړو. موږ به په سریلانکا، نیپال او پاکستان کې قضیې تر څېړنې لاندې ونیسو.


### اخځلیکونه:

بیټ، اې اف. کریستیا او اینیکولوپوف(۲۰۱۱)

د ذهنونو او زړونو ګټل؟ په افغانستان کې د یوې ساحوي تجربې شواهد. ایم آی ټي، د سیاسي علومو د څانګې څېړنیزه پاڼه شمېره ۱۲-۲۰۱۱.

برنیکنیوف، ډي آي ویتبرګ او ایس دن (۲۰۱۲) "په ناکامو او جګړه ځپلو هیوادونو کې د چوپړتیاو وړاندې کول او مشروعیت" د عامه مدیریت بیا کتنه ۱۴(۲) مخ ۲۹۳-۲۷۳.

کارپینټر ایس آر، سلیټر او آر مالیت (۲۰۱۲) په جګړه ځپلو او ناکامو هیوادونو کې ټولنیزه ساتنه او اساسي چوپړتیاوې. څېړنیزه پاڼه ۸، لندن: د خوندي معیشت د څېړنې کنسرسیوم.

دین ایل او مالیت آر، بینسن، ایم ایس (۲۰۱۷). د چوپړتیاو وړاندې کول او دولتي ظرفیت: د خوندي معیشت د څېړنې کنسرسیوم د څېړنو موندنې: لندن: ایس ال آر سي. د خوندي معیشت د څېړنې کنسرسیوم

ډیکس، اس–کې هسمن او چې والټن (۲۰۱۲) په ناکامو دولتونو کې د دولتي مشروعیت او ثبات لپاره د فساد خطر. یو ۴، د فساد ضد د منابعو مرکز / تیر ایچاویز. سي (۲۰۱۲) په افغانستان کې د معارف او روغتیایي چوپړتیاو د وړاندې کولو سیاسي اقتصاد. کابل: آریر. فیشتاین، پې او ویلدر (۲۰۱۱) د زړونو او ذهنونو ګټل؟ په افغانستان کې د مرستو او امنیت تر منځ د اړیکو ارزول. متدفورد، ایم اې: تفت پوهنتون

غني او ای سي لاکهارټ او ایم کارنهان (۲۰۰۵) د مشروعیت د تشې ډکول: د دولت جوړونې روش. څېړنیزه پاڼه ۲۵۳، لندن: او ډی ای ګوردون اس (۲۰۱۲) روغتیا، جګړې، ثبات او دولت جوړونه: په شګو ولاړ کور؟ د دولت جوړونې او آبادولو ژورنال ۲۰۱۲، ۷(۱) مخ ۴۴-۲۹.

د فساد ضد د څارنې او ارزونې ګډه کمیټه (۲۰۱۷) په وزارت کې د فساد په وړاندې زیانمنیدونکو ارزونه په معارف وزارت کې. کابل: د فساد ضد د څارنې او ارزونې ګډه کمیټه

جبکسن ای (۲۰۱۲) د شبکې پر بنسټ دولت. په افغانستان کې محلي حکومتولي: د خوندی معیشت د څېړنې کنسرسیوم

جبکسن ای او جي مینولا (۲۰۱۲) د لوبې اصول: د لاسرسۍ شبکې د تیوري په لورې. لندن: د خوندي معیشت د څېړنې کنسرسیوم مسن این (۲۰۱۲) د اوبو رسونې او حفظ الصحي اړیکې (واش) د چوپړتیاو وړاندې کول او د سولې او دولت جوړونې پروګرام: د ادبیاتو یوه کتنه، لندن: اړ ډی آی

نعمت او، ای (۲۰۱۴) د لیبرالې مداخلې په عصر کې ځایي حکومتولي: له ۲۰۰۱ کال څخه په وروسته افغانستان کې د حکومتولۍ اړیکې: د پي اچ ډي تیسیس په اس او ای اس کتابتون کې

نیکسن اچ (۲۰۰۸) په افغانستان کې په سیمه ییزه کچه د دولت جوړونې هڅې: د مختلفو نظرونو پاڼه کابل، آریر.

نیکس اچ او مالیت (۲۰۱۷) د چوپړتیاو وړاندې کول، عامه ادراکات د دولت مشروعیت. د خوندي معیشت د څیړنې کنسرسیوم موندنې: لندن: او ډی آی

پین ای (۲۰۱۲) په افغانستان کې د کلیو د شرایطو له شننې څخه ګټه اخیستل میتودونه او پایلې: لندن: او ډي آی

پین ای ای جکسن، ډي هوت او جي مینولا (۲۰۱۷) د افغانستان بدلونه؟ د تخنیکي حل لارو او سیاسي پروسو تر منځ د همغږۍ لټول له ساحې څخه سبقونه. لندن: د خوندي معیشت د څیړنې کنسرسیوم

روبین شتاین، ایل (۲۰۰۹) له جګړو څخه وروسته روغتیایي چوپړتیاوې. د امریکا د متحده ایالاتو لپاره نوې پالیسي.

واشنګټن ډي سي. د امریکا متحده ایالاتو د سولې انستیتوت

سیګار (۲۰۱۷) د امریکا د متحده ایالاتو د کانګرس لپاره درې میاشتنی راپور. اکتوبر ۳۰.

نړیوال بانک (۲۰۱۵) د جي اس ډي اف په هکله د پروژې د پلي کولو او پایلو راپور. شمېره: FO۱۵۹۱۹، د افغانستان اسلامي جمهوریت لپاره د لومړنیو روغتیایي چوپړتیاو د پیاوړي کولو په موخه د ۱۷۰۲۵ میلیون ډالرو په بیه: سپتمبر ۲۵، واشنګټن، ډی سي، نړیوال بانک

د امریکا د متحده ایالاتو نړیواله پراختیایي اداره او د نړیوالې پراختیا اداره (۲۰۱۲) د سیاسي اقتصاد له نظره د افغانستان د چوپړتیاو د وړاندې کولو ظرفیت ارزونه. د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا ادارې له خوا تیار شوی او د پراختیا ادارې له خوا تنظیم شوی.

وایګند اف (۲۰۱۲) افغانستان: د هیواد سیستماتیکه ارزونه د نړیوال بانک راپور:

زولیک. آر (۲۰۰۹) ناکام دولتونه: د پرمختیا تنظیمول: ژوند ۵۰ (۲) مخ ۸۴-۶۷.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنې یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲ م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسی پوری اړوند څېړنې برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو نشرول او همداسی د شواهدو پر بنسټ د څېړنې او زده کړې د کلتور خپرول دی. د پنسیلوانیا د پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کی د یوو څېړنیز بنسټ په توګه دلوړ مقام لرونکی دی او په منځنی آسیا کی د څېړنیزو بنسټونو په منځ کی په پنځم کچه کی ځای لری. د افغانستان دڅېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې دلاسته راوړلو لپاره د پالیسیو جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان دڅېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتونه کار واخلي او دڅېړنې په برخه کی خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څېړنی او ارزونی اداره د مشرانو د بورډ لخوا چی د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینی نورو سازمانونو، مدنی ټولنی او دخپلواکو کارپوهانو استازی په کی شامل دی، اداره کیږی.

په همدې ډول، دغه اداره په برېتانیا کې د پروسپیکټ (Prospect Magazine) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې ادارې جایزه ګټونکې شوه.




**تمویلونکی:**

د دی اداری تمویلونکی د سویدن نړیواله انکشافی اداره (SIDA) او لاندی نور نړیواله بنسټونه دی:

European Union (EU), Global Challenges Research Fund (GCRF), United States Institute of Peace (USIP), Norwegian Institute of International Affairs (NUPI), Food and Agriculture Organization of the United Nations (FAO), Overseas Development Institute (ODI-UK), Institute of Development Studies (IDS) and Swiss Agency for Development and Cooperation (SDC), and British Council (BC).

همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:

Resolve Network, Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), Global Challenges research Fund (GCRF), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict, Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB-Asian Think Tank Network (ATTN) and The Central Asian Think Tank Network (CTTN).

©۱۳۹۷ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

دغه خپرونه یوازې د غیر سوداګریزو موخو لپاره کېدای شي نقل ،وینا ، ذکر یا بیا چاپ شي، په دې شرط چې لیکوال او منبع یې خبر شي. په دې خپرونه کې ځای شوي نظرونه لیکوال پورې اړه لري او په حتمي ډول د AREU یا د اروپایي ټولنې نظرونه نه منعکس کوي. ځینې حقونه خوندي دي.

که چېرې دغه خپرونه په برېښنایي ډول چاپ شوې، ذخیره شوې یا لېږدول شوې وي، برېښنایي پته یې باید د AREU ویب پاڼې ته ولېږل شي. (www.areu.org.af). له دغو اجازه لیکونو څخه بهر له دې خپرونې څخه ګټه اخیستل د AREU او د همکارو خپرونکو مخکینۍ لیکلې اجازې ته اړتیا لري. د AREU د برېښنا لیک د پتې له لیاري، areu@areu.org.af یا تیلیفون شمېرې ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۵ له لیاری اجازه لیک تر لاسه کېدای شي.